مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حکیم روان

۲۰۲۰/۰۲/۲۹

# وطنه!

وطنه زما ختنه په غمونو دې غمېږم
وطنه زما تنه په وياړونو دې وياړېږم

چې ته لويږې وطنه زما روح له تنه وځي
سنگر شمه ، مورچل شمه لمن کې دې پاڅېږم

پاڅون شم اچاريار شمه غورځنگ شمه وطنه
په غرو درو دې گرځم په کړنگ باندې بدلېږم

دا ستا د دنگو څوکو د بازانو په بريدو کې
کوپړۍ د زوررورو خاورې شوی دي نازېږم

څه کودې په تا کړي د صحرا تورو کربورو
د تن بچی دې پلوری له خپل ځان سره جنگېږم

دا کودې به تارمار شی او دامونه به ويجاړشی
ورځمه جرگه کېږمه ، يوکېږمه ، يو کېږم

ساتمه دی وطنه ! د پنجاب له تورو سپيو
چلتار او په غاجار به لکه تالندې رالوېږم

پتمن اوسې وطنه ، بريمن اوسې وطنه!
په خوښه او رضا په مال او سر بلهارې کېږم

د جام له منارونو بيا د خوست تر چنارونو
در جار شمه وطنه ! در جارېږم در جارېږم

شمشاد اوسې وطنه ! تل آزاد اوسې وطنه!
د عشق له ليونتوبه دې کړېږمه کړېږم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ